دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لارښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالي څرګند دلایل دي. نو څوک چې له تاسي څخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمیر دې له نورو ورځو څخه پوره کړي. الله پاک ستاسي لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از سهل (رضی الله عنه) روایت است که نبی اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: بهشت، دروازه ای دارد که به آن، ریان می گویند. روز قیامت، فقط روزه داران از آن دروازه، وارد بهشت می شوند. و غیر از آنها کسی دیگر از آن، وارد نمی شود. (روز قیامت) ندا داده می شود که کجایند روزه داران؟ پس آنها برمی خیزند و غیر از آنها کسی دیگر، وارد نمی شود. پس از اینکه روزه داران وارد می شوند، آن در، بسته می شود و هیچ کس دیگری از آن، وارد نمی شود. (صحیح البخاری)

شهادت شپږم کال، ۱۷ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۱ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د چنګاښ ۳۱ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د رمضان المبارک ۲۴ مه د ۲۰۱۴ م د جولای ۲۲ مه

د ارګون د قربانیانو له کورنیو سره د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم د پنځه میلیونه افغانیو مرسته

د ارګون د دردوونکې پېښې غم یوازې د دې سیمې د خلکو غم او درد نه وو، بلکې دا د ټولو افغانانو ګډ درد او مصیبت وو، چې درست افغانان یې سخت ودردول. (ډاکتر عبدالله عبدالله)

کابل، رسنۍ:
د یکشنبې په ورځ د پکتیکا د ارګون ولسوالۍ د وروستۍ پېښې د قربانیانو د کورنیو سره د غمشریکۍ له پاره د ولسمشرۍ نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله یادې سیمې ته ورغلی وو، نوموړي د ارګون د خلکو سره ژمنه وکړه، چې دی به د هېواد دښمن خلک وهڅوي، چې د دې دردوونکې پېښې له متاثرینو سره مرستې وکړي.
ده پخپله هم د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم په استازیتوب له دردمنو کورنیو سره د پنځه میلیونه افغانیو مرسته وکړه.
ډاکتر عبدالله عبدالله وویل: د ارګون د دردوونکې پېښې غم یوازې د دې سیمې د خلکو غم او درد نه وو، بلکې دا د ټولو افغانانو ګډ درد او مصیبت وو، چې درست افغانان یې سخت ودردول. یادې څرګندونې په افغانستان کې د ولسمشرۍ د ټاکنو مخکښ نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله تېره ورځ د ارګون د پېښې د سیمې او قربانیانو د خپلوانو سره د کتنې پر مهال وکړې،.... (۴ مخ)

عثماني:

انتخابات، افغانستان را به بحران کشانید، کمیسیون انتخابات نزد مردم مسؤول است

کابل، رسانه ها:
هیات اداری ولسی جرگه افغانستان افزایش نا امنی، بیکاری و بلند رفتن نرخ مواد خوراکی و نفتی در کشور را ناشی از بحران انتخابات عنوان می کند.
صدیق احمد عثمانی معاون اول این جرگه که ریاست جلسه، روز دوشنبه را به عهده داشت گفت، انتخابات، افغانستان را به بحران کشانیده و کمیسیون مستقل انتخابات در قبال این قضیه نزد مردم مسوول است.
آقای عثمانی افزود که برای جلوگیری از تشدید بحران، کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان باید برای رفع مسوولیت اش پروسه، تفتیش و بازشماری آرا را به گونه دقیق انجام دهد:
" انتخابات افغانستان را به بحران کشانیده است ... (ص، ۴)

۵۰۶ شهید و ۳۱۵۰ مجروح تاکنون؛ حاصل ۱۴ روز جنایت صهیونیست‌ها علیه غزه

فلسطین، رسانه ها:
با ادامه بمباران‌های پی‌درپی نوار غزه، جدیدترین آمار، از شهادت ۵۰۶ و جراحت بیش از ۳۰۰۰ فلسطینی که حداقل نیمی از آنان زن و کودک هستند، حکایت دارد.
به نقل از رسانه‌های فلسطینی، اسرائیل در ادامه جنایت خود، صبح روز دوشنبه منزل یک خانواده فلسطینی در رفح واقع در جنوب غزه را مورد هدف توپخانه قرار داد و بر اساس اعلام وزارت صحت فلسطین بر اثر این حمله ۱۱ نفر از جمله ۷ کودک به شهادت رسیدند و دهها نفر دیگر زخمی شدند.
همچنین گزارشهای شفاخانه ها از بیرون کشیدن تعدادی دیگر ... (ص، ۴)

د ټولو رایو ۵۰٪ صندوقونه کابل ته رسول شوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان له یوشمیر ولایتونو نه د رایو پنځوس سلنه صندوقونه د بیا شمېرنې او ارزونې لپاره کابل ته رسېدلي دي.
له ولایتونو نه پلازمېنې کابل ته د رایو د صندوقونو د لېږد بهیر د تېرې پنجشنبې له ورځې پیل شوی، دغه صندوقونه د ایساف، ناټو او افغان ځواکونو له خوا لېږدول کېږي.
د ټاکنو د کمېسیون ویاند نورمحمد نور یوې خبري غونډې ته وویل، تر دې مهاله د بلخ، غزني، وردګو، کندهار، هرات، هلمند او پکتیکا ولایتونو... (۴ مخ)

گذشتهٔ نه چندان روشن و نگاههای دوخته شده به فردای روشن

فدا محمد فایض

((و بالاخره دولت موجود وظیفه داشت تا یک انتخابات شفاف و عادلانه را به راه میانداخت نه جریان انتخابات آنقدر به طول می انجامید، نه حق تلفی صورت میگرفت، و نه هم مردم ما از وضع ایجاد شده رنج میبردند؛ ولی با کمال تأسف کمیسیون انتخابات و سمع شکایات را که نهادهای ملی ما بشمار میروند بدنام ساختند و اکنون مردم به هر نوع اجراآت آنها ولو شفاف و عادلانه به دیدهٔ شک مینگرند، دولت آیندهٔ افغانستان باید اعادهٔ حیثیت این دو نهاد ملی را در اولویتهای کاری خود جا دهد. گرچه مهندسیهایی که بخاطر بدنامی انتخابات صورت گرفته بود افشا شد؛ ولی انتخابات را بدنام و بی اعتبار ساختند و مردم بجای آنکه به آینده بچشم امید می دیدند اکنون نومیدانه به آن نگاه میکنند که مسؤولیت این همه ایجاد موانع کردن بر دوش دولت کنونی است.)) (ص، ۲)

جنرال اسدالله:

ذهنیت نادرست در مورد عدد ۳۹، سبب کاهش عواید شده است

کابل، رسانه ها:
مسوولان ترافیک کابل می گویند، با آنکه عدد ۳۹ از نگاه شریعت، فرهنگ و اصول مدنی هیچ نوع معنای زشت ندارد، اما برخی از مردم نمی خواهند که پلیت با داشتن عدد ۳۹ را در موتر های شان استفاده کنند.
جنرال اسد الله مدیر ترافیک کابل در نشست خبری در کابل گفت، این ذهنیت نادرست درمیان مردم سبب کاهش عواید اداره آنان گردیده است:
" اداره ترافیک یک اداره خدماتی است که سالانه در حدود ۸ ملیارد افغانی به دولت عواید میدهد و فعلاً که ما باید در حدود یک ملیارد پول را به دولت می پرداختیم اما از اثر همین پلیت که مردم حاظر به خرید آن نشده اند کثر عواید به میان آمده است. "
مدیر ترافیک همچنان افزود... (ص، ۴)

د زړه سوري کېدو ناروغي مخ په ډېرېدو ده

بي بي سي:
د افغانستان د سرې میاشتې ټولنه وایي وروستي ارزونې ښيي چې په افغانستان کې د ماشومانو د زړه سوري کېدو ناروغي مخ په ډېرېدو ده.
د دغې ناروغۍ زیاتې پېښې ... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د رأیو د بیا شمېرنې بهیر باید څه ډول پر مخ بوتلل شي؟

د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ انتخابات عمدتاً دوه خبرو بی اعتباره کړل:

۱- دولت سره له دې چې ولسمشر بیا بیا ژمنه وکړه چې خپل نوماند نه لري او د یوه نوماند ملاتړ هم نه کوي؛ خو بیا هم لکه وروسته چې څرګنده شوه، ولسمشر بی پرې نه و او نه پاتې شو.

۲- د انتخاباتو او شکایاتو کمیسیونونه لکه څرنګه چې تمه کېده چې د ملي بنسټونو په حیث بې پرې پاتې شي، بې پرې پاتې نه شول، دا حقیقت اوس د نړیوالو څارونکو او د نړیوالو قوانینو په رڼا کې د ټولو رأیو د بیا شمېرلو په نتیجه کې ښه جوتېدای شي، دا بنسټونه خپل زړه راښکون به یې هم و؛ خو تر ډېره پورې د دولت تر اغیز لاندې هم راغلل، متأسفانه زموږ هر ملي نهاد چې کله یوه مسأله ورته راجع شي، د دولت د فرمایشونو تر سیوری لاندې اجراآت کوي او قانون هلته لرې چیرته په تاخچه کې کښېږدي، همدا دلیل دی چې ان زموږ پر عدلی بنسټونو د چا اعتماد پاتې نه دی.

اوس زموږ ټول دغه ملي بنسټونه دې ته اړتیا لري چې اعتماد یې احیا کړای شي، البته افراد مهم نه دي، یو به ځي، بل به راځي؛ خو کوم څه چې مهم دي، هغه زموږ د ملي ادارو او بنسټونو اعتماد دی.

همدا دلایل ددې سبب شول چې زموږ سږنی انتخابات د یوې ملي پروسې په توګه له شک او شبهې خوندي پاتې نه شول، حال دا چې موږ د خپل هېواد د قیادت ملي شورا او ولایتي شوراګانو د غړو د انتخاب له پاره فقط همدغه یوه لاره لرو چې هغه انتخابات دي. که چېرې دا لاره هم پربنده کوڅه تمامه او بدنامه او بې اعتباره شي؛ نو طبیعي خبره ده چې ستونزې به سر راپورته کوي او هېواد به د بحران خواته بیایي. دا اوس زموږ په انتخاباتي لانجه کې د بهرنیانو مداخله موږ هیڅکله هم په نیک فال نه شو نیولای؛ ځکه دا په حقیقت کې په یوه ډول نه یوه ډول زموږ د ولس پر ساده توب دلالت کوي؛ خو په هر حال دا چې مشخصو لاسونو د لاس غوټه خولې ته یوړه؛ نو ناچار به یو څوک له یوه بله ځایه راته او دا غوټه به یې پرانستله.

په هر حال هغه څه چې مهم دي دا دي چې اوس چې دواړو مخکښو ټیمونو د ملي وحدت پر یوه حکومت توافق کړی یو خو باید د انتخاباتو او شکایاتو کمیسیونو ته دا هڅه ونه کړي چې خبره همغې خواته بوزي چې ورته مهندسي شوې وه او بل باید دواړه ټیمونه د رأیو د رونوالی په مخ کې خنډ نه شي؛ ځکه ولس په هر حال له دواړو ټیمونو نه رښې رأیې غواړي، باید د رڼو او په درغلیو د کاریدلو رأیو ترمنځ توپیر وشي. دا کار به تر څه بریده د انتخاباتو او شکایاتو د کمیسیونونو مجروح شوی اعتبار بیرته احیا کړي، مخکښ ټیمونه باید پر داسی حرکتونو د رأیو د شمیرنې بهیر له خنډ او ځنډ سره مخ نه کړي چې که دچا په رأیو کې تقلبي رأیې راووتې ، هغه د رأیو د شمېرنې له بهیر سره پریکون وکړي او ځان مرور کړي. که چېرې دغسې حرکتونه وشي، بیا به دا شک پیاوړی کړي چې د درغلیو په اړه په مهندسۍ کې پخپله دا ټیم هم لاس لري او اوس چې شوې درغلۍ رابرسیره کېږي نوموړی ټیم غواړي چې په یوه ډول نه؛ یوه ډول پر شوې درغلۍ پرده واچوي.

زموږ په اند ددغسې کوښښونو له پاره نور ضرورت هم پاتې نه دی او ځای هم نه دی پاتې ، که چېرې د انتخاباتو او شکایاتو کمیسیونونو ته د ټولو لویو سیاسي احزابو په مشوره او موافقه کسان ورپیژندل شوي وای، ښایي زموږ انتخابات له هغې بدنامۍ سره چې مخ شول، نه وای مخ شوي، موږ د زړه له کومې پر دې خبره خفه یو چې انتخابات چې زموږ یوه ملي پروسه ده په لوی لاس بدنامه کړای شوه، که چېرې د «پاک بازي؛ خدا راضي» په مصداق عمل شوی وای نه به انتخابات بدنامه شوی وو، نه به اختلافات رامنځته شوي وای او نه به انتخاباتي بهیر دومره ځنډیدلی وای چې ولس یې له نهیلۍ سره مخ کړی وای.

گذشتهٔ نه چندان روشن و نگاههای دوخته شده به فردای روشن

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

فدا محمد فایض

گرچه اگر میخواستند و اهداف سیاسی کشورهای میزبان کنفرانس بن (۲۰۰۱) در میان نمیبود، می شد اساسی را بگذارند که افغانستان آهسته آهسته بسوی یک فردای بهتر گام بگذارد؛ ولی عمداً کلوخ را در آب گذاشته از سر آن گذشتند. از همین جهت با گذشت تقریباً چهارده سال ما شاهد یک فردای بهتر نبودیم. می پذیریم که بعضی کارهای شکلی صورت گرفت، قانون اساسی ساخته شد و به تصویب و توشیح رسید، قوای ثلاثه بمیان آمد، روابط سیاسی با کشورهای جهان برقرار شد، بیرق افغانستان در خیلی از کشورهای جهان به اهتزاز درآمد و سفارتها و کونسولگریهای ما گشوده شد، تجارت تا حدی رونق یافت، در داخل هم سرکها تا حدی و لو با کیفیت پایین اسفالت شد، دروازه های بسته شدهٔ مکاتب باز گردید، پوهنتون ها و مؤسسات عالی سلسلهٔ تعلیمات خود را به پیش بردند، مکاتب و پوهنتونهای جدید بوجود آمد، مؤسسات خصوصی تعلیمی از سطح مکاتب گرفته تا سطح مؤسسات عالی و پوهنتونها بمیان آمد، بازسازیها و اعمار خانه ها و مارکیتها و بلندمنزل ها و امثال آن صورت گرفت، شهرکهای جدید با کیفیت خوبتر بمیان آمد، شالودهٔ طرح شهر جدید به نام کابل جدید ریخته شد و امثال آن. اینها گرچه هر کدام جای حرف دارد؛ ولی باز هم به عنوان ابتکارات قابل اغماض نیست. اما آنچه یک فردای بهتر و امید وار کنندهٔ کشور را تضمین میکرد بچشم نخورد که بنده قسماً به آن اشارات مختصری میکنم:

۱- در کنفرانس بن یکی اساس یک تشکیل قومی گذاشته شد، که این پیام خوبی برای ملت ما نداشت، البته این نی که من بخواهم بگویم که عده یی از اقوام در اینجا صاحب هر نوع حق و امتیاز باشند و یک عده مانند گذشته ها در عالم محرومیت بسر ببرند؛ بلکه اساس دولت جدید باید براساس شایسته سالاری نهاده میشد، هر که شایسته میبود و امید خدمت بهتر از او به وطن و ملت رفته میتوانست، باید بجای مناسبی منصوب میشد. بدون شک دولت باید حیثیت یک آیینهٔ قدنما را می داشت که هرکس خود را در آن میدید؛ ولی در جایگاه مناسب آن.

۲- قانون اساسی بمیان آمد، با آنکه ادعا میشود که قانون ما در منطقه بی نظیر است؛ ولی اگر از طرف گروهی از متخصصین با بی طرفی مطالعه شود تناقضات و کاستیهای عدیده در آن دیده میشود، شما توجه کنید یک عضو شورای ولایتی ما باید کم از کم فارغ صنف دوازده بوده، دارای سند بکلوریا باشد؛ ولی دروازه های مقام ریاست جمهوری و معاونین آن چنان بر روی افراد باز گذاشته شده که فارغان صنوف ششم هم میتوانند خود را به آن نامزد کنند. کشور ما بحیث یک کشور اسلامی تعریف شده و دین مقدس اسلام دین رسمی مردم افغانستان معرفی شده و علاوتاً تأکید شده که هیچ قانونی در افغانستان در مغایرت با دین مقدس ساخته شده نمیتوانم (مادهٔ سوم قانون اساسی) که درین رابطه حرفی وجود ندارد؛ اما نظام اقتصادی ما را ببینید که کاپی یی از نظام اقتصادی غرب است، بخصوص شیوهٔ بانکداری ما همان شیوه یی است که در کشورهای غرب رایج است که بخش عمدهٔ آنرا «سود» تشکیل میدهد. اگر یک کسی بخواهد پول خود را غرض نگهداری در بانک بگذارد حتماً باید سود بگیرد که خیلی از مردم متدین ما درین رابطه دچار تشویش اند؛ ولی دولت پی اصلاح این حرف هم نه برآمد و ادعای دولت اسلامی هم میشود، ایا در نظام اسلامی باید دروازه های سود در بانکهای دولتی و خصوصی به رخ مردم باز باشد؟

۳- ملت امید یک حکومتداری خوب را داشت؛ ولی نه در کشور ما حاکمیت قانون آمد و نه هم یک حکومتداری خوب بخاطری که یک ارادهٔ سیاسی برای تطبیق قانون و آوردن حکومتداری خوب نبود، بناء فساد با گذشت هر روز در دولت ریشه های بیشتر دوانید و فعلاً دولت ما در جهان به یک دولت فاسد شهرت دارد. درست است که درین فساد خارجیها ید طولا داشتند؛ ولی این وظیفهٔ دولت بود که این مسأله را با دولتهای کشورهای کمک کننده شریک میکرد. دولت خود اذعان دارد که فقط بیست در صد از کمکهای خارجی از طریق دولت مصرف شد و هشتاد در صد آن به باد آمد و باد رفت، این وظیفهٔ دولت بود که باید جلو آنرا میگرفت. خودسریها به اوج خود رسید، از ترمیناتوری ملی اصلاً خبری نیست، در حالی که هیچ کشوری در دنیا نیست که ترمیناتوری ملی خود را نداشته باشد. این خودسریها از رسانه های چاپی گرفته تا رسانه های تصویری و صوتی وسعت یافت، وزارت اطلاعات و فرهنگ هم بجز از یک دورهٔ کوتاه درین راستا هیچ گامی نبرداشت، پس باید پرسید که وظیفهٔ وزارت اطلاعات و فرهنگ چیست؟ آزادی بیان آمد؛ اما تعریف نشد، پس دل تنگ هر که هرچه خواست گفت و نوشت و هر نوع انارشیزم و افسار گسیختگی ها را به دموکراسی حواله دادند. شما همین حالا مسؤولانه از هوتلهای شهر نو و دیگر نقاط تفتیش کنید که در آنجا چه انحرافات اخلاقی انجام نمیشود این همه و همه نتیجهٔ عدم حاکمیت قانون و نبود یک حکومتداری خوب در کشور است.

۴- مواد مخدر سال به سال رشد بیشتر میابد و ما از هر سو طعن و لعن آنرا میشنویم. این حقیقت کاملاً آفتابی است که خارجیها در آن با قوت هر چه بیشتر دست دارند و خارجیها اگر نه به سطح دولت؛ ولی به سطح مطبوعات بر آن اعتراف کرده اند که تا بحال ازین طریق صدها ملیارد دالر کمایی کرده اند، زحمت آنرا دهقان افغان میکشد، ملامتی آنرا ملت افغان میکشد؛ ولی نفع آن در جیب کشورهای خارجی می رود، اگر ما یک حکومت خوب و نیرومند میداشتیم با این وضعیت مواجه نمیشدیم. این هم کاملاً آشکار است که در تمام این نقیصه ها خارجی ها از روی یک پلان دست دارند: اما چنین هم نیست که دولت افغانستان «الا بلا بگردان ملا» گفته بار تمام ملامتی را بر دوش خارجیها بیندازد. خیلی از کارها صورت گرفته که خارجیها در آن مداخله نکرده اند. در غصب زمین که به میلیونها جریب را شامل میشود کدام خارجی دست دارد؟ اجراآت ماورای قانون که از سوی دولت صورت گرفته خارجیها در آن چه نقشی داشته اند. مصلحتبازیهایی که از سوی دولت صورت گرفته و موارد عدیدهٔ دیگر. من به مداخلات خارجیها اشاره هایی کردم و آنها هرگز قابل بخشش نیستند، موانعی را که در موارد مختلف ایجاد کرده اند هیچکدام قابل اغماض نیست؛ ولی آنچه را خود دولت اغماض کرده و تساهل ورزیده نباید بر دوش خارجیها انداخته شود و دولت بدینگونه سعی کند که بار گناهان خود را کم کند.

۵- از سال ۲۰۰۳ با گذشت هر روز جنگ در کشور شدت گرفته است، از یک سو ده ها هزار از هموطنان ما از سوی قوای خارجی طی بمباردها از بین برده شده و از سوی دیگر طی بمبگذاریها کنار جاده و به ده ها گونهٔ دیگر جانهای مردم ما اعم از مرد و زن، پیر و جوان و کودک گرفته شده است و مردم ما را به ماتم نشانده اند. پس چرا صلح به کشور نیامد؟ بخاطری علاوه از آن که خارجیها هم درین رابطه مانع عمده بحساب میروند؛ ولی آنچه مربوط به دولت است، دولت هم یک ارادهٔ سیاسی از خود تبارز نداده است، تنها به تشکیل شورای عالی صلح و تبلیغات درین رابطه کاری ساخته شده نمیتواند. بلکه یک ارادهٔ نیرومند سیاسی میخواهد. دولت باید کم از کم همان بخش را که مربوط خودش است جواب بگوید. بهمین ترتیب دهها مورد دیگر که بخاطر جلوگیری از اطالهٔ کلام از آن میگذریم.

و بالاخره دولت موجود وظیفه داشت تا یک انتخابات شفاف و عادلانه را به راه میانداخت نه جریان انتخابات آنقدر به طول می انجامید، نه حق تلفی صورت میگرفت، و نه هم مردم ما از وضع ایجاد شده رنج میبردند؛ ولی با کمال تأسف کمیسیون انتخابات و سمع شکایات را که نهادهای ملی ما بشمار میروند بدنام ساختند و اکنون مردم به هر نوع اجراآت آنها ولو شفاف و عادلانه به دیدهٔ شک مینگرند، دولت آیندهٔ افغانستان باید اعادهٔ حیثیت این دو نهاد ملی را در اولویتهای کاری خود جا دهد. گرچه مهندسیهایی که بخاطر بدنامی انتخابات صورت گرفته بود افشا شد؛ ولی انتخابات را بدنام و بی اعتبار ساختند و مردم بجای آنکه به آینده بچشم امید می دیدند اکنون نومیدانه به آن نگاه میکنند که مسؤولیت این همه ایجاد موانع کردن بر دوش دولت کنونی است. دولت بپذیرد یا نه پذیرد؛ ولی ملت درین رابطه قضاوتهای خود را دارد، دولت باید کم از کم جوابگوی آنچه باشد که به خودش ارتباط دارد. اینکه دولت آینده تا چه حد میتواند با این و چالشهای دیگر دست وپنجه نرم کند آنرا زمان جواب خواهد داد و ما در همان وقت با درنظر داشت حقایق قضاوت خواهیم کرد.

عبیدالله صافي

دواړه مخکښې مشران دې د اولس د ارمانونو د تحقق لپاره کار وکړي

که د نړۍ د هېوادونو پر تاریخ کره کتنه وکړو؛ نو دا حقیقت ترلاسه کوو چې هر هېواد له لوړو ژورو تېر شوی او د هر هېواد وګړو د خپل ملک او ولس خېرښېګڼې او پرمختګ لپاره ډېرې قرباني ورکړې دي. کوم هېوادونه چې نن ډېر خوشحاله او پرمختللي په نظر راځي تر شا يې د اولسونو لويه قرباني مهم رول لري. له هر راحت سره زحمت تړل شوی او له زحمت پرته راحت نشته. الله تعالی پخپل سپېڅلي کتاب قرآنکریم کې انسانانو ته همدا درس ورکړی چې راحت له زحمت وېستلو پرته په لاس نه راځي. زموږ مشرانو هم پخپل پیغام کې دا توصیه کړې او ویلي يې دي چې:

بې زحمته راحت نشته زما وروره! که راحت غواړې زحمت درلره بويه.

زحمت او راحت دواړه سره لازم او ملزوم دي. بې زحمته راحت ناشوني دی اول به زحمت ویستل کېږي او بیا به راحت ترلاسه کېږي. همدا الهي قانون او فطرت دی او ددې له پلي کېدو پرته راحت په وړیا توګه نه ترلاسه کېږي. کله چې د راحت د ترلاسه کولو قانون همدا دی؛ نو بیا پر ټولو افغانانو دا فرض دی چې د هر څه دمخه په همدغه فطري قانون عمل وکړي او ټول په منظم ډول د راحت د ترلاسه کولو په خاطر زحمت ویستلو ته ملاوې وتړي.

له څه شک پرته افغانستان د څو لسیزو راهیسې په یو لوی مشکل کې راګیر دی او افغانان د ژوند په ټولو ډګرونو کې له راحت نه محروم په ډول ډول ستونزو کې ژوند تېروي. په اوسنیو شرایطو کې افغانستان دهغه بدن په څېر ټوک ټوک او پرهر پرهر دی لکه چې له رنګې وني نه لاندې غورځېدلی وي او ټول بدن يې مات ګوډ وي. ډاکټران دداسې ناروغ علاج په ډېر احتیاط سره کوي او لومړی هغه حساس او مهم غړي درملنې ته پاملرنه کوي چې دهغه ژوند ورسره تړل شوی وي کله چې ژوند يې وژغورل شي؛ نو د نورو پرهرونو درملنه پخپله کېږي او بالاخر هغه ورځ هم راځي چې دغه ټوک ټوک انسان جګ جوړ شي او بېرته خپل اصل حالت ته راوګرځي. له څه شک پرته افغانستان هم داسې درملنې ته اړتیا لري؛ خو دا کار هله کېدلای شي چې د افغانستان عام وګړي په ځانګړې ډول سیاسي مشران او قائدین د خپل هېواد د پیاوړتیا او پرمختګ لپاره په ډېر اخلاص او ټینګ عزم سره د خدمت ډګر ته وردانګي او خپل ټول قابلیت او انرژي په سلو کې سل د افغانستان د استحکام او ترقۍ لپاره وقف کړي. د وړې د شپاړسمې او د غبرګولې د ۲۴ مې ټاکنو دا ثابته کړه چې د افغانستان وګړي د ښاغلي عبدالله عبدالله او ښاغلي اشرف غني تر شا ولاړ دي او دواړه مشران د افغانانو د غوڅ اکثریت ملاتړ له ځانه سره لري، دا چې د ټاکنو نتیجه دچا په ګټه تمامېږي او څوک زیاتې رأيې ترلاسه کوي په اوسنیو شرایطو کې دا مهمه نه ده؛ بلکې تر ټولو مهم کار دا دی چې دواړه ډاکتران د خپل اولس د ملاتړ په احترام دهغوی د ارمانونو د تحقق لپاره کار وکړي، دوی دواړو ته اولس په دې موخه رأيې ورکړې دي چې د هېواد خدمت وکړي او له موجوده بدبختیو څخه د نجات ورکولو لپاره خپل ټول قابلیت او انرژي پکار واچوي. په اوسنیو حساسو حالاتو کې د دواړو ډاکټر صاحبانو په وړاندې تر ټولو حیاتي کار دا دی چې د هر څه دمخه د افغانستان سلامتیا او ملي یووالی یقیني کړي. د تعصب کوسې ربښې چې د افغانستان کوټ کوټ ته غځېدلي او د ډېرو خلکو په دماغ او رګونو کې يې ځای نیولی هغه ټول له بیخه وویستل شي؛ ځکه چې تر څو پورې د تعصب او بې اتفاقۍ دغه ګنده تخم له بیخه نه وي ویستل شوی په هېواد کې نه د اولس په خوښه منتخب حکومت راتلای شي او نه هم د پرمختګ کاروانه پرمخ تلای شي، نه امن راتلای شي او نه هم د هېواد سلامتیا تضمین کېدلای شي. فلهذا د ولسمشرۍ دواړو مخکښو نوماندانو او دهغوی پلویانو ته پکار دي چې ټول په ګډه هېواد له ټولو شتو ستونزو څخه وژغوري او په مضبوطو بنیادونو يې ودروي، د قانون حاکمیت قائم کړي، د فساد ملا ماته او پرځای يې د نیکۍ او قانون فضا حاکمه کړي په ټولو دولتي ادارو کې دینداره، پرهیزګاره او اهل اشخاص په دندو وګوماري، د افغانستان د وګړو عام ذهنیتونه داسې اصلاح کړي لکه چې زمکه له مخکې نه د کښت قابل ګرځول کېږي، په اوسنیو حالاتو کې د افغانستان ټول بنسټونه او زیربناوې یا نړېدلي دي او یا هم متضرر شوي دي تر څو پورې چې د ژوند په ټولو ډګرونو کې دغه بنسټونه ونه رغول شي یو کار هم په صحیح معنا نشي ترسره کېدلای، که څه هم ددغو ټولو کارونو ترسره کول د ټولو افغانانو ګډ مسؤولیت دی؛ خو د دوه مخکښو نوماندانو مسؤولیت له بل هر چا زیات دی ځکه چې دوی د افغانستان تر ټولو مخکښ او مؤثر مشران دي، د افغانستان د وګړو د قاطع اکثریت ملاتړ له همدوی سره دی. دوی د خپل اولس په مرسته په آسانه کولای شي چې هېواد پر مضبوطو بنیادونو ودروي، د فساد پرځای اصلاح راولي او په ټولو دولتي ادارو کې قانون په صحیح معنا پلي کړي.

موږ په بشپړ یقین سره ویلای شو چې که دواړه ډاکټر صاحبان په راتلونکو پنځو کلونو کې په سره سینه او په ډېر تدبر او فراست سره د هېواد د استحکام او سلامتیا لپاره په ګډه کار وکړي او هېواد په مضبوطو بنیادونو ودروي؛ نو له څه شک پرته افغانستان به په یو غښتلي او قانونمند هېواد بدل شي، نه به په ټاکنو کې ستونزې ولاړېږي او نه به هم په نورو ادارو کې؛ بلکې هر څه به په نورمال حالت کې پرمخ ځي او هېواد به په چټکۍ سره د پرمختګ او شیرازۍ په لور ګامونه اخلي؛ خو که الله مه کړه هېواد د تېر په څېر حالت کې قرار ولري او مات ګوډ بې سم نه کړای شي؛ نو زموږ د افغانانو یوه ارمان به هم له پوره کېږي؛ نه به د منتخب حکومت مخ لیدلای شو او نه به هم په ادارو کې د قانون حاکمیت؛ بلکې نور به هم د فساد په دلدل کې دوبېږو او پخپلو لاسو به د هېواد دښمنانو ته لاره هواروو.

محمد خلیل

راځئ د روژې اثرات پخپله ټولنه کې مرتب کړو!

د الله تعالی ډېر لوی فضل دی چې موږ ته يې په دې سخت ګرم موسم او اوږدو ورځو کې د روژې د نیولو او د الهي حکم د سرته رسولو توفیق راکړ. اوس موږ د روژې میاشتې د دریمې لسیزې وروستیو ورځو کې قرار لرو، او ان شاء الله څو ورځې وروسته به د وړوکې اختر مراسم نمانځو. موږ ټول په دې خبره ښه پوهېږو چې د روژې اصل مقصد په ځان کې تقوا پیدا کول دي او تقوی په انساني ټولنه کې هغه ستره پانګه ده چې د ټولو کارونو سمون ورسره تړل شوی. څومره چې په ټولنه کې د تقوا ماده او روحیه غښتلې وي همغومره نیکبختي او خوشحالي خپلې جرړې کلکوي. د ټولنې په سمون کې چې تقوی کوم رول لري د نړۍ بل هیڅ طاقت يې نه لري؛ ځکه چې تقوا له څه مالي لګښته پرته ټولنه له هر ډول فساد نه ژغوري او د نیکبختۍ په لور يې روانوي؛ مګر د فساد د مخنیوی لپاره له وسائلو نه کار اخستل له یوه لوري زیات مالي لګښت ته اړتیا لري او له بل لوري په بشپړ ډول مؤثر هم نشي واقع کېدلای.

لکه څنګه چې د هرې ناروغۍ لپاره الله جل جلاله درمل پیدا کړي او ددغه درمل په استعمال سره ناروغي ختمېږي همداسې د ټولنې د اصلاح او د فساد د ختمولو لپاره الله تعالی د تقوا ماده پیدا کړې. تقوی او فساد پخپلو کې د اور او اوبو په څېر دي چېرته چې تقوی وي هلته د فساد تخم نشي زرغونېدلای او ټولنه د فساد له ناوړو بوټو څخه پاکېږي؛ خو چېرته چې تقوا نه وي هلته بیا فساد د کبل په څېر زرغونېږي او هرې لورې ته خپلې جرړې غزوي. فساد د انساني ټولنې له پاره تر ټولو ستر سرخوږی دی، د انسان ژوند چې څومره له فساد نه متأثره کېږي له بل څه نه دومره نه متأثره کېږي، فساد هغه زهرجن بوټی دی چې د ټولنې هر یو څېز په زهرو کې لړي او تباه کوي يې؛ نو ځکه حکیم ذات الله جل جلاله له فساد نه د نجات د ترلاسه کولو یواځنۍ مؤثره نسخه په قرآن کریم کې ښوولې او فرمایلي يې دي چې «قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا ۔ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا» بېشکه هغه څوک بریالي شو چې خپل نفس يې له فساد او ګناه څخه پاک کړ او هغه څوک هلاک شو چې خپل نفس يې په فساد کې ککړ کړ. همداراز لوی الله د قرآن کریم په یو بل آیت کې فرمايي چې: «ای نبي! زما مؤمنو بندګانو ته ووایه چې تقوی ترلاسه کړي.» (سورة الزمر: ۱۰ آیت)

موږ د افغانستان مسلمانانو چې د اوړي په دې ګرم موسم کې کومې روژې ونیولې په دې کې به مو خامخا تقوی ترلاسه کړې وي، نه ښايي دغه تقوا صرف د روژې په میاشت پورې منحصره کړو او ددغې میاشتې له ختمېدو سره سم بېرته خپل مخکینی حالت ته وګرځو، بېرته پخپلو هوټلو، موټرو، بسونو، کورونو، راډیو او ټلویزیونونو کې له اخلاقه پرېوتې، مزخرف او ګمراه کوونکې موسیقۍ وغږوو، شراب، چرس، سګرټ او نور حرام شیان د خپل کور ښکلا وګرځوو، د قرآن کریم تلاوت او دیني کتابونو مطالعې ته شا کړو، خولې مو بېرته په کنځلو او بدو ردو وازې کړو، د اختر په خوشالۍ کې هګۍ جنګولو او مرز جنګولو ته مخه کړو، د چرګانو او سپیانو د جنګولو میدانونه ګرم کړو، مسجدونو ته ورتګ کم او په عبادت کې سستي وکړو، له نادارو، غریبانو، کونډو، یتیمانو او معذورو سره خپلې مرستې ختمې یا کمې کړو، د کینې، حسد او تکبر تخمونه بیا په زړونو کې زرغون کړو.

د روژې په مبارکه میاشت کې چې موږ کومه تقوا ترلاسه کړې هغه زموږ د ژوند تر ټولو قیمتي پانګه ده دهغه ساتنه پر موږ ټولو فرض دي. دا به څومره بدبختي وي چې خپله دغه قیمتي پانګه د اختر له لومړۍ ورځې نه له لاسه ورکړو، ددې مثال خو به داسې وي لکه چې یو څوک د خپل پوره یو میاشت د کار مزدوری ته اور واچوي او وېې سوځوي، زموږ زیاتره وروڼه همداسې غلطي کوي او د اختر له لومړۍ ورځې نه ټولو هغو غلطو کارونو او عادتونو ته مخه کوي چې په روژه کې يې ترېنه ځان ساته.

موږ باید د روژې په میاشت کې د ترلاسه شوي تقوا اثر په نورو میاشتو کې د ژوند په ټولو ډګرونو کې پرېږدو او دا ثابته کړو چې د روژې میاشتې هغه اصل مقصد مو ترلاسه کړی چې الله تعالی د تقوا په نوم یاد کړی دی او دا ستر مقصد هله تحقق مومي چې موږ په عملي ډګر کې د اختر له لومړۍ ورځې نه دغې تقوا ته عملي جامه ورواغوندو، د تقوا لومړۍ غوښتنه داده چې موږ د افغانستان ټول وګړي بې اتفاقي، دښمني، تعصب، کینې او حسادت ته شا وارو، یو بل ته د ورورګلوۍ کلک لاسونه اوږده کړو، د خپل هېواد او اولس د خدمت لپاره د یو بل ملا وتړو، د امنیت د ټینګښت او د افغانستان د سلامتیا او پرمختګ لپاره د زړه له تل نه هلې ځلې وکړو، سیاست د عبادت په څېر وګڼو د یو بل د حذفولو پرځای ټول د اتفاق په صف کې ودرېږو، د قانون احترام وکړو او هر کار د قانون په چوکاټ کې ترسره کړو، همدا کار زموږ د ټولو بدبختیو او ستونزو د حل یواځینۍ کیلي ده، راځئ کلکه ژمنه او عهد وکړو چې لدې وروسته خپل ټول مسائل د تقوا له لارې ترسره کوو او موجوده ټولې ناخوالې د تقـوا په نسـخه له منځه وړو.

فروغگر

آنچه باید در رابطه به سه دهۀ رمضان بدانیم!

قرار حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم دهۀ اول رمضان رحمت، دهۀ دوم آن مغفرت و دهۀ سوم آن نجات از آتش دوزخ است.

ازین حدیث شریف و مفاد آن کسانی مستثنی شمرده می شوند که فقط روزه را در ترک خوراک و نوشیدن و مباشرت با زنان خلاصه می کنند.

کسانی که بر مردم ظلم می کنند، خون ناحق مسلمانان را می ریزند، در جامعه ترس و هراس و هرج و مرج پیدا می کنند، زندگی آرام مردم را برهم و درهم می کنند، جایدادهای مردم را غصب می کنند، مال منقول و دارایی های بندگان خدا را به غارت می برند، معادن کشور را بدون مجوز شرعی و قوانین کشوری استخراج می کنند و می فروشند، در خرید و فروش شراب، چرس و افیون مصروف اند، ظالم را پشتیبانی می کنند و گلوی مظلوم را خفه می کنند. از طریق رباحق مردم را می خورند و یا استعداد جوانان را نادیده می گیرند و اقارب جاهل خود را در پست های بلند دولتی و حکومتی به وظیفه می گمارند، در ترازو مرتکب چندین نوع خیانت می شوند:

۱- در فروش مال و اطعمه و اشربه چند چندان نفع می گیرند.

۲- مرتکب غش می شوند.

۳- پول متاع خود را پوره می ستانند اما در میزان، مرتکب کم فروشی می شوند.

۴- عیب مال خود را بیان نمی کنند و مشتری را به چندین بهانه و سوگند به خریداری مال خود جلب می کنند.

۵- اموال دزدی و حرام را بفروش می رسانند.

آنانی که عاق والدین اند و یا مال یتیم را می خورند.

از زنا، لواطت، قمار، شرابخوری و انواع فساد دست نمی کشند و به خدا رجوع نمی کنند. خلاصه کسانی که با ترک فقط خورد و نوش خود را روزه دار خوانده و دیگر از هیچ نوع منکر و عمل به آن خودداری نمی کنند، به هیچ وجه مستحق رحمت خدا نیستند. این رحمت شامل حال روزه دارانی است که:

فقط برای خداوند جل جلاله روزه میگیرند.

الله جل جلاله امر می کند که برای خدا روزه شوید، در حالی که امیدوار رحمت او هستید، و یا این که: روزه بگیرید و به رحمت خدا امیدوار باشید.

رحمت بر امثال احکام و اوامر خدا جل جلاله مرتب می شود و از جانب پروردگار بر بندگان صالحش نازل می گردد و یا به این آیت توجه کنید:

«بدون شک و تردید مسلمانان مرد و زن و مؤمنان مرد و زن و تابعداران مرد و زن و صادقان مرد و زن و صابران مرد و زن و خشوع کنندگان مرد و زن (که در نماز نزد پروردگار شان قلباً حاضری و تضرع می کنند) و خیرات دهنده گان مرد و زن (که در راه خدا انفاق می کنند) و روزه داران مرد و زن (که به خاطر خدا از تمام منهیات و خورد و نوش و مباشرت روزه می باشند) و مردان و زنانی که شرمگاههای خود را از عمل زشت زنا حفاظت می کنند و مردان و زنان ذاکر که بیشتر الله جل جلاله را در زبان و عمل یاد می کنند، الله جل جلاله برای این همه مغفرت و اجر بزرگ را اماده نموده است.» (احزاب: ۳۵)

متوجه هستید که در مغفرت و اجر بزرگ ماده رحمت شامل است و این رحمت بر اعمال صالح مرتب می شود، پاک بر پاک نازل می شود نه بر خبیث و مردار.

و دهه دوم روزه که شامل مغفرت خداوند برای بندگانش است، درین جا نیز همین کلیه تطبیق می شود.

فایده:

روزی امام حسن بصری رحمت الله علیه در مسجد بود و شاگردانش گرد وی حلقه زده بودند، مردی آمد از وی پرسید:

حضرت بزرگوار، با خشکسالی شدید روبرو می باشیم مواشی و زراعت ما رو به هلاکت و تباهی است، چه چاره کنیم؟!

حضرت حسن بصری جواب داد: برو بقوم خود بگو که از خدا طلب مغفرت کنند: «استغفروالله» را ورد کنند، خدا بر شما ارزانی می کند و از خشک سالی نجات می یابید. وقتی این مرد رفت، شخص دیگری آمد و عرض کرد:

اولاد ندارم چه کنم؟ حضرت حسن بصری به این شخص نیز استغفار را توصیه نمود. شخص سوم در رسید و از کمبود حاصلات و آب شکایت کرد وی به این شخص نیز عین دستور را داد.

هنگامی که امام از پاسخ این سه تن فارغ شد، شاگردانش پرسیدند که مشکلات گوناگون و سوالها هم گوناگون، اما پاسخ شما همه در یک جمله، حکمت چیست استاد بزرگوار؟!

حضرت حسن بصری رحمة الله این آیت سوره نوح را تلاوت کرد:

«فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۔ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ۔ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا» (نوح: ۱۰ - ۱۲)

ترجمه: نوح علیه السلام می گوید: من به آنها گفتم: از پروردگار خود مغفرت بخواهید او بخشنده است، آسمان بر شما بیشتر خواهد بارید و شما را با دادن اولاد و مالها کمک خواهد کرد، باغها و نهرها را به دسترس شما قرار خواهد داد.

درین دهۀ رمضان یعنی دهۀ دوم که دهۀ مغفرت و بخشایش گناهان از سوی الله جل جلاله است، از وی بیشتر اوقات استغفار کنید، تا شما را علاوه از بخشیدن در امور دنیا و آخرت کمک نماید.

و اما دهۀ سوم:

این دهه، دهۀ نجات از آتش دوزخ است به این معنی که اگر مؤمن به اخلاص کامل از پروردگار خود طلب نجات از آتش دوزخ کند، الله جل جلاله وی را بصورت قطع از آتش دوزخ نجات می فرماید.

و دعای خواندن نجات از آتش دوزخ این است:

«اللهم انک عفو تحب العفو فاعف عنی»

پروردگارا تو صاحب گذشت استی (علاوه از بخشش گناه دروازه های هم مادی و معنوی دنیا و آخرت را نیز بر رخ بندگان صالح خود باز می کنی) عفو را دوست داری پس ما را عفو کن!

احکام شریعت و فواید آن یکی با دیگر ربط ناگسستنی دارد هرگاه در یک حکم آن به تحقیق آغاز کردید راه هایی بر رخ شما باز می شود که قبلاً تصور آن را نیز کرده نمی توانستید، به همین سان اگر درین حدیث مختصر ولی مؤجز نبی کریم صلی الله علیه وسلم تحقیق کنیم و خداوند توفیق خود را رفیق راه ما گرداند، شاید کتاب ضخیم از حاصل سعی ما مرتب شود. خدا من و شما را از برکات رمضان محروم نکند. (آمین)

شهادت اونیزه

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب طرف بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

په منځنی ختیځ کې د اوربند غوښتنه

دویچه ویله:
پر نړیوالو غوښتنو سربېره اسرائیلو په غزې تراوه کې خپلو عملیاتو ته ادامه ورکړې ده. د ملکي کسانو مرګ ژوبله مخ پر ډېرېدو ده او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د اوربند غوښتنه کړې ده.
د ملګرو ملتونو د امنیت شورا رئیس ریچارد ګازانا ویلي دي چې «موږ په جنګي سیمو کې د ملکي وګړو په اړه ډېر اندېښمن یو» هغه زیاته کړې ده چې «موږ پر ټولو اړخونو ږغ کوو چې د ملکي وګړو ساتنه وکړي او نړیوالو بشردوستانه قوانینو ته درناوی وکړي.» دغې شورا دغه راز د خصومتونو د ژر تر ژره بندولو غوښتنه هم کړې ده.
د ګازانا امریکایي همکار سامانتا پاور، ویلي دي چې یوازې یو اوربند کولای شي چې تاوتریخوالی ودروي او تر هغه وروسته سړی کولای شي چې په جګړې سیمو کې د ملکي وګړو مرستو ته ور ودانګي.
د ملګرو ملتونو دغې تر ټولو پیاوړې شورا د منځني ختیځ د تاوتریخوالي په اړه دوه ساعته د تړلو دروازو ترشا غونډه لرله. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا په وارو وارو بېړنۍ غونډې راغوښتي دي، خو د یکشنبې په ناوخته ماښام غونډه یې غیر معمول دی. تر دې دمخه د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما د یوه فوري اوربند غوښتنه کړې وه. د سپینې ماڼۍ د معلوماتو له مخې جمهور رئیس بارک اوباما د اسرائیلو د لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو سره په یوه تلیفوني تماس کې په غزه کې د ملکي وګړو او اسرائیلي عسکرو د تلفاتو په اړه اندېښنه ښوولې ده.
اوباما دغه راز پر اسرائیلو باندې د حماس توغندي برغلونه غندلي دي او ویلي یې دي چې اسرائیل د خپل ځان د دفاع حق لري.
اوباما دغه راز د خپلو دیپلوماتانو د مشر جان کیري په مرسته د منځګړتوب د یوه نوي ماموریت د پیل اعلان هم کړی دی. د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې کیري به د دوشنبې په ورځ قاهرې ته ورسېږي او د مصر او سیمې د نورو هیوادونو له استازو سره به د شخړې د یوه سوله ییز حل په اړه خبرې وکړي.
د ملګرو ملتونو عمومي منشي بان کي مون هم هڅې پیل کړې، څو په منځني ختیځ کې یو دایمي اوربند رامنځته شي.

مظاهره چیان: ښکیلې غاړې دې په جګړو کې ملکي خلکو ته پام وکړي

کابل، رسنۍ:
په کابل کې لسګونو محصلینو په جګړو کې د ملکي تلفاتو د زیاتېدو په ضد لاریون وکړ او د جګړې له ښکیلو غاړو یې وغوښتل چې د ملکیانو ژوند ته پام وکړي.
لاریون کوونکو له حکومته هم وغوښتل چې د ملکي تلفاتو عاملین ونیسي او لازمه سزا ورکړي.
دا په داسې حال کې ده چې یوازې د روژې په مبارکه میاشت کې په پکتیکا، هلمند، کندهار او خوستي نورو ولایتونو کې په موټر بم چاودنو او مخامخ جنګونو کې لسګونه ملکي کسان وژل شوي دي.
دغه لسګونه محصلین د دوشنبې په ورځ د ملي شورا مخې ته راټول شوي وه او له حکومته یې وغوښتل، چې د ملکي تلفاتو مخه ونیسي او عاملین یې د قانون منګولو ته وسپاري.
لاریون کوونکو په خپلو شعارونو کې د جنګ له ټولو خواوو او د بمي چاودنو له عاملینو وغوښتل چې د ملکي کسانو وژنه بس کړي او ټولې خواووې باید د دوامداره سولې لپاره کار وکړي.
دې محصلینو د لاریون په پای کې یو پریکړه لیک هم ولوست، چې یوه برخه یې د سید فرهاد هاشمي له خوا داسې ولوستل شوه:
"موږ د ټولو خواوو څخه غواړو چې د ملکي وګړو له وژلو هرڅومره چې زر وي ډډه وکړي.
د ولسي جرګې څخه هم زموږ جدي غوښتنه دا ده چې په اجرایي قوه فشار رواړي چې د تروریستي حملو عاملین او د ماشومانو، ښځو او بې ګناه سړیو قاتلین ونیسي او ورته جزا ورکړي."
دوی په خپلو څرګندونو کې له حکومت او سوداګرو وغوښتل، چې د پکتیکا د وروستي پېښې په ګډون د جګړې د نورو قربانیانو له کورنیو سره لازمي مرسته وکړي.
په دې وروستیو کې په پکتیکا، هلمند، کندهار او خوستي نورو ولایتونو کې د وسله والو مخالفینو او امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړو، ماینونو او انتحاري حملو کې د ملکیانو د مرګ ژوبلې کچه لوړه شوې ده.
په ورته وخت کې د افغانستان د ولسي جرګې یو شمېرغړو د محصلینو سره په لاریون کې برخه واخیسته او دوی ته یې ژمنه ورکړه چې د اجراتو په اړه به ددوی غوښتنې د ولسي جرګې تر تالاره او یا حکومتي مسولینو ته ورسوي.

د ارګون د قربانیانو له ...

ډاکټر عبدالله عبدالله سره د ارګون په سفر کې د اصلاحاتو او همپالنې د ټاکنیز ټیم یو شمېر مشران هم مله ول.
په هغه غونډه کې چې له همدې کبله د شهید سردار په پوځي چوڼۍ کې جوړه شوې وه، په سر کې د ارګون ولسوال محمدرضا خروټي وویل، ارګون ته د افغانستان د سیاسي مشرانو پام او ورتګ ارګونوالو ته د تېرې سه شنبې ورځې دروند غم، چې په کې لسګونه ملکي وګړي مړه او ټپیان شول راکم کړی دی.
"د ارګون ولسوالي یوه سرحدي ولسوالي ده، نن ورځ د ارګون د پېښې د شهیدانو او ټپیانو د پوښتنې او فاتحې او غمشریکي د پاره محترم ډاکټر صیب عبدالله عبدالله د ولسمشریزو ټاکنو مخکښ نوماند دلته راغلی دی، او ورسره قدرمن پلاوی راغلی دی، موږ یې قدرداني کوو او رښتیا وایو، چې دا دروند غم د دوی په راتګ سره ډېر کم شو او ډېر کمېږي."
د ولسي جرګې په پخوانۍ دوره کې د یاد ولایت استازي پیر سیداسحق ګیلاني په خپلو خبرو کې ارګون ته د جهاد او شهادت د سیمې نوم ورکړ او په وروستي تروریستي پېښې یې خپل خپګان په ډاګه کړ.
د غونډې په وروستۍ برخه کې ولسمشرۍ ته مخکښ نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله د خپلو خبرو په ترڅ کې له ارګونوالو سره د غم شریکي په لړ کې وویل، چې د ارګون پېښې غم او درد د ټولو افغانانو ګډ او شریک دی:
"موږ د دې له پاره راغلو چې په دې غمیزه خپل غم او درد له دې خلکو سره شریک کړو، دا غم یوازې د ارګون د خلکو نه وو، د ټول افغانستان غم وو، هغه ورځ په ټول افغانستان کې ماتم وو، اوس هم خلک په دې ماتم سخت دردمن او خفه دي."
ډاکټر عبدالله عبدالله ژمنه وکړه، چې شتمن افغانان به وهڅوي، چې د پېښې د قربانیانو سره مرستې وکړي، نوموړي د ارګون خلکو له دې کبله مننه وکړه چې په تیرو ټاکنو کې یې پراخه برخه اخیستې او ده ته یې ډېرې رایې ورکړې دي.

انتخابات، افغانستان را به ...

کمیسیون مستقل انتخابات در قبال این قضیه نزد مردم مسوول است و برای رفع مسوولیت خود حد اقل مرحله تفتیش و شمارش آرا به شکل بسیار دقیق به پایان برساند تا در نتیجه آن یک رییس جمهور مشروع و قانونی در افغانستان به قدرت برسد."
این خواست در حالی مطرح می شود که یوناما با دفتر هیات معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان نیز ابراز امیدواری کرده که روند تفتیش آرا به زودی خاتمه یابد و نتیجه، آن روشن شود.
به اساس معلومات کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان در مجموع یک هزار و سیصد و بیست و پنج ناظر ملی و بین المللی مصروف نظارت از روند تفتیش آرای دور دوم انتخابات ریاست جمهوری اند.
این روند به دنبال اختلاف میان دو تیم انتخاباتی از عصر روز شنبه متوقف شد، اما پس از ظهر یکشنبه دوباره آغاز گردید.
در این حال مسوولان کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان می گویند که در تلاش اند تا برای سرعت بخشیدن روند تفتیش آرا تیم های بیشتری را در این راستا توظیف کنند.
نور محمد نور سخنگوی این کمیسیون به روز دوشنبه در یک نشست خبری در کابل گفت، کمیسیون از ظرفیت و امکانات خوبی برخودار است، اما بر افزایش تعداد ناظرین تاکید کرد:
" کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان از ظرفیت و امکانات خوبی برخوردار است، به شرط این که نماینده های دخیل در این روند افزایش یابند.
کمیسیون مستقل انتخابات در نظر دارد که در حدود صد تیم روند را در دو شفیت پیش ببرد تا سرعت عمل بیشتر شود تا روند در مدت زمانی که در نظر گرفته شده تکمیل شود."
کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان قبل از این گفته است که پروسه تفتیش تمامی آرای دور دوم انتخابات ریاست جمهوری این کشور حدود یک ماه طول خواهد کشید.

۵۰۶ شهید و ۳۱۵۰ مجروح ...

از شهدای دیروز منطقه «حی‌الشجاعیه» از زیر آوار خبر دادند و اعلام کردند تا کنون تعداد شهدای این جنایت به ۷۲ نفر و تعداد مجروحان به بیش از ۳۵۰ نفر رسیده است و از روز یکشنبه تا کنون بیش از ۱۰۰ نفر در غزه به شهادت رسیده‌اند.
صبح روز یکشنبه پیکر دهها شهید و زخمی در نتیجه جنایت تازه رژیم صهیونیستی در «حی الشجاعیه» واقع در شرق غزه به شفاخانه شفا منتقل شد. رژیم صهیونیستی به صورت بی‌هدف حی‌الشجاعیه را از زمین و هوا و دریا بمباران کرد.
بر اساس آخرین آمار اعلام شده تعداد کل شهدا تا به این لحظه ۵۰۶ نفر و تعداد مجروحان بیش از ۳۱۵۰ نفر اعلام شده است.

د ټولو رايو ٪۵۰ صندوقونه ...

د رایو صندوقونه د ټاکنو د کمیسیون مرکزي دفتر ته رسېدلي.
د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو ټاکنو د رایو د صندوقونو د بیا شمېرنې په ترڅ کې تر اوسه ۵۷۵ صندوقونه ارزول شوي، کمیسیون وایي د رایو د بیا شمېرنې په بهیر کې یې هڅې ګړندۍ کړې دي.
په همدې حال کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی جیمز ډاینز په کابل کې له افغان ولسمشر حامد کرزي سره ګټلي او د افغانستان د ټاکنو په اړه یې ورسره خبرې کړې.
د ولسمشرۍ د مطبوعاتو څانګې د دغې لیدنې کتنې په اړه زیات جزییات نه دي خپاره کړي، خو دا یې ویلي چې ښاغلي ډاینز د رایو د بیا شمېرنې او د دواړو سیالو نوماندانو تر منځ د خبرو په اړه ولسمشر کرزي ته مالومات ورکړي.

د زړه سوري کېدو ناروغي...

د افغانستان په ختیځ ولایت ننګرهار کې ثبت شوې دي.
چارواکي وایي په باروتو د ککړې هوا تنفس کول او د میندوارۍ پرمهال د میندو بې پروایي د دغې ناروغۍ ستر لاملونه دي.
له کابله سمیع الله موسی زی په خپل رپوټ کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې د چارواکو له خولې وایي که څه هم په تېرو شپږو کالونو کې د دغې ټولنې په مرسته له درې زرو زیات د زړه سوري کېدو په ناروغۍ د اخته ماشومانو درملنه شوې، خو لا هم په دغې ناروغۍ درې نور اخته ماشومان د ورپا درملنې په انتظار دي.
په دغې ناروغۍ د اخته ماشومانو شمېر مخ په ډېرېدو دی.
دافغانستان د سرې میاشتې ټولنې د رسنیو د څانګې مسؤولې صارمه افضلي بي بي سي ته وویل د دوی ارزونې ښیي چې په دغې ناروغۍ د اخته ماشومانو شمېر د تېرو کلونو پرتله زیات شوی دی.
نوموړې وویل:
"کله چې موږ د دغو پېښو په اړه ارزونه وکړه نو ومو لېدل چې دغه ناروغي په چټکۍ سره مخ په زیاتېدو ده. ډېر ناروغان د ننګرهار ولایت نه له موږ سره ثبت شوي دي، آن په یوه کورنۍ کې څو تنه په دغې ناروغۍ اخته دي. کله چې موږ هغوی ته وواېو چې د ټولو ماشومانو د درملنې امکانات نه لرو نو هغوی بیا هلکانو ته لومړیتوب ورکوي، چې دا مساله زموږ لپاره ډېره د خفګان وړ ده".
د دغې ټولنې چارواکي وایي د درملنې لپاره له هېواد بهر د دغو ماشومانو د استولو لپاره کافي پیسې نه لري.
د زړه سوري کېدو له ناروغۍ د یوه ماشوم درملنه له دوه زره تر پنځه زره امریکایي ډالرو لګښت لري.
په دې وروستیو کې افغان حکومت د سرې میاشتې ټولنې هغه وړاندیز ومانه چې د حج فریضې ادا کولو لپاره دې هر تلوونکی افغان د دغو ماشومانو د درملنې لپاره زر افغانۍ ورکړي.
د حج وزارت مرستیال وزیر داعي الحق عابد بي بي سي ته وویل د مرستې د دې نوي پروګرام له مخې به سږ کال د زړه سوري کېدو په ناروغۍ له اخته ماشومانو سره ۲۴ ملیونه افغانۍ مرسته وشي.
د زړه سوري کېدل داسې ناروغي ده چې په افغانستان کې یې درملنه نه کېږي.
خو د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې چارواکي وایي په دغې ناروغۍ د اخته کسانو د درملنې لپاره د یوه روغتون د جوړولو چارې پیل شوي او په دې برخه کې څو تنه روغتیایي کارکوونکي ترکیې ته استول شوي دي.
د سرې میاشتې ټولنه پر ولسمشر حامد کرزي نیوکه کوي چې په دغې ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې لپاره د یو ملیونه ډالرو ژمنه شوې مرسته یې تر اوسه دغې ټولنې ته نه ده ورکړې.

ذهنیت نادرست در مورد...

که در میان صد هزار موتر نمبر پلیت ۲۴۳۹ آن عدد ۳۹ با خود می داشته باشد بناً به دلیل تسلسل نمرات نمبر پلیت و راجستر بودن آن از سوی دولت، آوردن تغیر در آن ناممکن است.
آقای اسد الله از رسانه ها، علمای دین و مردم عام در کشور خواست تا بخاطر جلوگیری از افزایش این فرهنگ نادرست و دور کردن ذهنیت های بی مفهوم از اذهان مردم با این اداره همکاری کنند و در حد توان برای جلوگیری از ان تبلیغ نمایند.
در همین حال برخی از مردم می گویند که شماری از موتر فروشان بخاطر اینکه موتر را به نرخ پایین تر خریداری کنند در مورد عدد ۳۹ به مردم تبلیغات منفی می کنند.
اختر محمد یکی از باشنده های شهر کابل در صحبت با رادیو آزادی در مورد چنین گفت:
" به عنوان یک شهروند عدد ۳۹ هیچ نوع صبغه شریعی و حقوقی ندارد بلکه تبلیغ منفی بخاطر در آمد است، به نظر من مردم ما باید این مساله را کنار بگذارند و مانند اینکه در قرآن کریم عدد ۳۹ داریم در هر جا این عدد را بپذیرند."
در گذشته نیز روی مساله عدد ۳۹ در نمبر پلیت موترها بحث های صورت گرفته است که در این رابطه علمای دین گفته اند که قرآن شریف در آیت ۳۹ مساله با ارزش را تشریح نموده است و هرنوع تلیغات در این مورد نادرست و بی بنیاد می باشد.
همچنان در گذشته برخی جوانان از طریق شبکه های اجتماعی ازجمله فیس بوک مبارزات علیه عدد ۳۹ راه اندازی کرده بودند.